ليکوونکی : سميع الحق « صافی »


دنشرنیټه : 3 سپتامبر 2020


# د مرحوم گل احمد خان « بابا » :
# يوه لنډه خاطره !



محترم گل احمد خان د ملافضل احمد خان زوی او د ملافقير محمد خان لمسی دی چه د لغمان ولايت د چاردهی منطقه کی، د « ملاصفت » په کلي چه هلته د استاني بابا زيارت، اخوند کلی او باغمرزا د کلو په مرکزيت کې يې موقعيت درلود؛ په يو روحاني کورنی کی په کال « 1279 هجري شمسي » زيږيدلی دی ، په قوم « صافی » او په خته پښتون دی.

گل احمد خان يو ورور درلود چه شيراحمد يی نوم وه او د هغه د کوشش له امله زده کری ترسره کره ، ترسو چه د منطقی د کلو او بانډو اولادونه ئی را ټول کړ ، او د خلکو په مرسته د حيدرخانيو د کلی په جامع مسجد کی ، هغو ته په سبق ويلو پيل وکړه .

شيراحمد خان په منطقه کی د معلم صيب ؛ په نوم ښه شهرت پيدا کړ، د شاگردانو شميرئی ډيريده ، خلکو سره يی نژديوالی زياد شو ، او ټولو ورسره مينه پيدا کړه چه اوس هم دهغه منطقی د کلو او بانډو وگړی د معلم صيب شيراحمد خان ، کورنی ته په ډيره درنه سترگو گوری او ډير احترام ورته لری.

د حیدرخانیو کلی مکتب ؛ د استاد شیراحمد خان صیب ، له برکت اوس لپاره ، لیسی ته ارتقاع کړي او د هغه کشر زوی ، محترم روکی ؛ هلته د معلمی مقدسه دنده په غاړه لري .

محترم گل احمد خان په خصوصی لحاظ زده کړه او سواد یی درلود، د خلکو زامن به یی تل د تعلیم اوتربیی په هکله تشویقول ، بالخصوص د دینی کتابو په هکله چه ملایان او خطیب صاحبانو نه زده کړه وکړی ، خاصه توجه درلود.
دهغه وخت افتخاری استادان هر یو : ککوجان استاد دقلعه آخند کلی ، قربان احمد استاد د باغ میرزا د کلی ، گل محمد مشهور په مشاق استاد او مولانا نجم الدین خان د صاحب جمال کلی او سیدونکی وه .
دا خلک بیله له کوم امتیاز اوشخصي گټو د الله سبحانه او تعالی د رضا لپاره دیرو خلکو ته خط او سبق زده کړ.

محترم گلاحمد خان ؛ ځوانان ئی تشویقول چه د تعلیم او تربیی په برخه کی د وطن ساتنی او فرض عین د اداکولو لپاره تل کوشش وکړي.
چیری چه مترقی، با غیرت او دهمت خاوندان وه ورسره نژدیوالی درلود او هر چیری چه ظالم اووطن دشمن انسان پیدا کیدل او پر مظلومو خلکو یی ظلم کاوه دبیچاره گانو او بیوزلو خلکو د حق او حقوق اخیستلو لپاره د ظالم پر ضد ودرید ترڅو چه ظالم رسوا او مظلوم پر خپل حق ورسیږی.

گلاحمد خان یو وطني ، باغیرت، دیندار او با خیره ؛ انسان دوست سړی وه اوتل یی کوشش کوه چه د ظالمانو پر ضد او د مظلومو خلکو په گټه ؛ انساني خدمت وکړي او هم د کلیوالو مروده او راشه درشه هغه سره دیره ښه وه ، او لمسیانی چه د اروابناد مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغانی » زامن وه ، ټولو به ورته د « بابا » خطاب کاوه .

گلاحمد خان « بابا » یو تاریخي لنده خاطره په داسی ډول ده :
په « 1351 هجري شمسي » کال د ظاهر خان د پاچاهي په وخت کی په ټول افغانستان کی لوږه ، قیمتی او قحطي پر خلکو راغلی وه چه په همدغه وخت کی د خارج هیواد نه خیراتی غنم راغلل ترڅو په غریبانو وویشل شي .
دا غنم ، د لغمان ولایت ته هم راورسیدل . خود هغه وقت واکداران غوښتل چه دا غنم په خپلو کی تقسیم او غارت یی کړي .
مگر؛ گل احمد خان « بابا » همدغه وقت ، ځوانان او مترقی خلک یی را ټول او د زور واکو په مقابل کی ودرول ترڅو چه غنم یی پر مسکینانو باندی وویشل او دا ویشل د اعتصابونو او مظاهر و زور او قوت وه .
پدی لحاظ چه گل احمد خان در منطقه یومخور او با نفوذ شخصیت وه د هغه زامن او لمسیان هم خلکو کی محبوبیت او نفوذ درلود نو په دی اساس حکومت ونشو کولی چه دی ونیسی او بندی یی کړي .
ولي ؛ دهغه ځوی ؛ زه سمیع الحق « صافی » او دهغه لمسی محترم الحاج نجم الدین« سعیدی» او نور دوستان یی ورته ونیول او پس له وهلو او تکولو یی، بندیان کړل .

زما به د زندان خاطره هیره نشی :
بلی ؛ کله زه سمیع الحق « صافی » او نور ملگری می پس له وهلو او تکولو زندان کی وم مخ می پرسیدلی وه او تمام ځان می تک تور اوشین وه . کله چه د منطقی سپین ژیری یی زما

د پلار گل احمد خان « بابا » سره د خبرو لپاره قوماندانی له خوا جلب اوحاضر یی کړل نوزه یی د نورو ملگرو و سره قوماندانی دفتر ته حاضر کړو .
کله چه پلارمی په دی زخمي صورت ولیدلم نو د وخت واکدارانو ته یی مخ واړوه او ورته وویل : د ا زما زوی مو په غلا ، ظلم او یا نورو بی ناموسی کار و نیولی چه دومره وهل مو ورکړي دي .
بیایی ماته مخ واړوه او وویل :
آفرین ځویه ؛ تا دغریبو خلکو د حق غوشتلو په نتیجه کی وهل قبول او بندی خانی ته لاړی .
همدی وینا سره سم حال دا چه تولو خلکو کتل ماته یی یو بندل پیسی را کړی چه لار شه نران دهلالولو دپاره دی ، که مړ شوی ماته افتخار دی.
د دی خبری ویلو سره تول هک او حیران شول ، یو تر بل یی وکتل او گنگسی شوی چه پلار یی دومره با احساس او غیرتي سړی دی ، نو زامن او لمسیان ؛ به یی سنگه وي ...

نود دی عمل سره جوخت زما محترم پلارگل احمد خان « بابا » غوشتل چه دفتر نه ووزی ولی ؛ د وخت واکدارانو او سپین ژیرو ورته عذر وکړ چه کښینه ، دی دسپین ژیرو خبره و منل و بالاخره د دیرو خبرو وروسته په همغه ورځ ، زه او زما اندیوالان د زندان نه را خلاص او د خلکو له خوا ، شه بدرگه شولو او تولو مونژ ته د قدر په ستر گو کتلی .

گل احمد خان « بابا » متاهل وه ، د هغه نه دری ځامن او دری لورگانی پاتی دي او د لمسیانو او کړوسیانو خاوندان هم دي.

په اخروختونو کی پلار می گل احمد خان « بابا » مریض شو ، شرایط مجبور کړل ترخو خپل کورنی غړو سره کابل شار ته مهاجرت وکړي .

هلته د یو څه مودی د تیرولو وروسته په کال « 1361 هجري شمسي » کی د « 82 » کلو په عمر ، سترگی پتی کړی او په حق ورسید . جنازه ئی د هغه د وصیت سره سم د کابل په شهدای صالحین هدیره کی ، خاوروته وسپارله شوه.

إنا لله وإنا إليه راجعون

الله سبحانه و تعالی دی زما مهربان او دیندار پلار گل احمد خان « بابا » و بخښی او د فردوس جنتوته دی پر نصیب شي .

امین یا رب العالمین

***

سمیع الحق « صافی »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی